هاري

نیټه 24/11/2009

# د افغانستان نوی حکومت په باب ځيني مفکورې

په افغاني او بهرني مطبوعاتو او محافلو کې، د حامد کرزي د نوي حکومت په باب راز راز نظریې او تبصرې خپرې او اظهار پرې. البته، ځینی مثبتي او ځيني منفي؛ ځيني غولونکي او ځيني تریخي؛ او ځيني رشتني او ځيني بیا سراسر دوراغجني او زیانمي دي. دلته به فقط د دریو مهمو مفکورو په باب لنده تبصره وسي. کېدای سي چي ټولي تبصرې په دریو کټګوریو کي ووېشل سي.

لمړۍ مفکوره: هیڅ شی به بدل نه سي. پخواني دارماران به بیا حکومت کوي. افغان ولس به د تېر په شان د حامد کرزي او د هغه د دوپه ملګرو تر پرله پسي ګوزارونو لاندي وي.

دوهمه نظریه: حالات به څه ښه سي. په نوې کابینه کي به نوې څېرې را ښکاره سي. حامد کرزي هم د لوړې په مراسمو کي ژمنه وکړه چي رسمي بدې او ډاکې به ختموي.

درېیمه تیوري: حالات به لا خراب سي. بې کفایتي، رشوت، او غلا به لا ډېره سي. د نوي حکومت لوی شاخص به دوپه او ډاکه وي.

لمړی، هغه اش او هغه کاسه به وي. که څه هم د راتلونکو حوادثو اټکل ګران کار دی، خو « میاشت له لمړۍ ورځي څخه معلومېږي.» که چیري د حامد کرزي پر تېر اته کلن پیر باندي لږ و ډېر غور وسي، د خوشبینۍ او مثبت بدلون لپاره چندان ځای نسته. ځکه امکان نلري چي یو سړی په یوه ورځ کي زوړ عادت بدل کړي، او نوی اخلاق غوره کړي. د عادت خوشي کول تر ټول ګران کار وي.

دغه راز، حامد کرزي د انتخاباتو په ترځ کي د ډېرو خلکو سره ژمني کړي دي، او هغوی اوس خپله ونډه غواړي. همدې خلکو په انتخاباتو کي له هیڅ ډول غلا، غبن، او رسوایي څخه ډډه و نه کړه، او ګرده عالم یې پر افغانانو باندي وخندوی. هغوی اوس د خپلو هڅو په بدل کي امتیازات غواړي او حامد کرزی مجبوره دي چي د هغوی سره خپلې وعدې پوره کاندي. د مثال په توګه، دوستم، سیاف، او فهیم ته به څه جواب وایي؟ د حامدکرزي حکومت نه پخوا شرم او حیا درلوده، او نه به یې په راتلونکي کي ولري. نو بنا، همدا خرک او همدا درک به وي. لنډه داچي همدا مافیایي دولت به دوام لري.

دوهم، شرایط او حالات به ښه سي. پدې ډله کي د امریکایي او غربي عالي رتبه مامورینو په شمول د حامد کرزي د حکومت پلویان او مداریان هم شامل دي. د امریکا د بهرنیو چارو وزیره، مېرمن کلنټن، باور لري چي په کابینه کي به خامخا نوي کسان مقرره ېږي. کار به اهل ته سپارل کېږي، او د بډو او غلا مخه به نیول کېږي. حتی د ملګروملتونو استازي هم د اصلاحاتو او ښه حکومت سپارښت او امرونه کوي. هغوی وایي که چیري اصلاحات را نه وړل سي، د حامد کرزي پر حکومت باندي به دغربي نړۍ چاندي او اعانې بندي سي. غربي چارواکو په ډاکه د ځینو جګپوړو مامورینو د برطرفه کېدو تقاضا کوي. هغوی د دوستم، فهیم، او احمد ولي کرزي توقیف او یا برطرفه کول غواړي.

دا ډله خلک په« آب حیات» پسي ګرځي. ښکاره خبره ده چي آب حیات لټول د ساده ګانو کار دی. عاقل او هوښیار خلک امتحان سوی شیان بیا نه ازمویي. وخت نه ضایع کوي، او دعامه خلکو په سترګو کي خاورې نه پاشي.

بلخوا، د امریکایي او غربي چارواکو خوشبیني تر یوه حده د درک وړ ده. هغوی مجبوره دي چي همدا چټیات ووایي ځکه د حامدکرزي حکومت د دوی مخلوق دی، او دوی یې کامل مسولیت لري. دوی مجبوره دي چي دخپلو خلکو د غولولو لپاره همدا پرتې بیابیا ووایي.

خو هغه افغانان چي خوشبیني ښکاره کوي، د هغوی حساب کاملا جلا دی. هغوی زیاتره هغه مداریان دي چي د حامد کرزي په حکومت کي خپله بقا ویني. هغوی پوهېږي چي ددې حکومت په شتون کي د دوی لپاره پنځه کاله نور د لوټ او تالان چانس برابرېږي. د دوی لپاره د ځان پوره کول، د« یوه کور» خاوند کېدل، او دخپل مقام ساتل تر بل هر څه مقدم او لمړی مقام لري. وجدان، انساني کرامت، او اخلاقي اصول د هغوی لپاره چټیات او بابېزه خبري دي.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

دربیم، حالات به نور هم پسي خراب سي. غلا، لوټ او تالان به لا زیات سي. پنځه کاله وروسته به ضرور افغانستان د نړۍ اول لمبر فاسد حکومت ولري. دا مفکوره حقیقت ته ډېره نژدې ده. سیاسي بصیرت، عقل، او له پخوانیو تجربو څخه درس اخیستل همدا حکم کوي چي د حامد کرزي نوی حکومت به تر پخوا لا ډېر غل، بې کفایته، او بېکاره وي. ځکه د حامد کرزي په حکومت کي اصلاحات امکان نلري. په دولت کي اداري فساد دونه زیات سوي دی چي اصلاح یې د حامد کرزي تر وسي وتلې خبره ده. د حکومت ټول ارګانونه فاسد دي. په حکومت کي د افغاني نشنلزم څرک نه لګي. په دولتي چارواکو کي شرم، حیا، او له خدایه بېرېدل د پېریانو خبري دي.

بل دا چي حامد کرزی اصلا د اصلاحاتو خیال او فکر نلري. هغه په روان لوټ او تالان کي پوره ونډه لري، ا و د همدې حاکمي دوپه ډلي یو مهم جز دی. حالات به ځکه لا خراب سي چي د حامد کرزي په شمول د هغه ډله د بل ځل حکومت چانس نلري. هغوی به دا وار د ځانونو په مړولو او پړسولو کي پوره مهارت او شهکاري وښیي. د ښاغلي عادل په شان به نور وزیران هم د ۳۰ میلونو ډالرو بډو په لټه کي سي. قاچاق به زور واخلي، او بیت المال به چور او تالا سي. همدا وزیران او والیان به یا پخپل ځای پاته سي، او یا به له یوه وزارت څخه بل وزارت او ولایت ته تبدیل سي. لنډه داچي د ځان پوره کول به د حامد کرزي د حکومت لوی او څرګند شاخص وي.

له بده مرغه، بني ادمان عموما په هغه څه باور کوي چي غواړي باور په وکړي. دا د انسانانو لویه کمزوري ده. بني ادمان عموما واقعیتونو ته نه ګوري، بلکي د ځان د غولولو او اغفال لپاره لکه زرکه سر په واره منډي. بلخوا، افغانان د ځان په غولولو کي تاریخي تجربې لري. په تاریخ کي ښایي هیڅ ولس ځان دونه نه وي اغفال کړی لکه موږ افغانانو چي کړی دی. دا زموږ د سیاسي شعور او بصیرت کمزوري ښیي.

کله چي طالبان قدرت ته ورسېدل، اکثرو افغانانو همدا خبري کولې. هغوی استدالال کاوه چي طالبان به ورو ورو اصلاح سي، حکومت به اهل کسانو ته ور خوشي کړي، او طالبان به بېرته خپلو حجروته ستانه سي او پر سبقانو به شرنګ واچوي. خو په خپلو ګناه کارو سترګو مو ولېدل چي دا خوشبینۍ ټولي غلطي را وختلې. طالبان تر پخوا لا سخت دریځه سول؛ په طالبانو کي راډیکاله جناح غښتلې سوه، او هغه کارونه یې وکړل چي اوس یې قلم په لیکلو شرمیږي.

د حامد کرزي د لمړي حکومت په باب هم ځینو خلکو د ځان او نورو د غولولو او ا غفال لپاره همدا چرندییات ویل. هغوی استدالال کاوه چي ډېر ژر به د حامد کرزي حکومت له جنګسالارانو څخه ځان خلاص کړي؛ اهل کسان به په کارونو وګماري؛ او عمومي اصلاحات به راولي. خو اته کلونو تریخو تجربو د هغوی ټولي خبري ردي کړې.

نن سبا، یو ځل بیا ځیني افغان او بهرني لیکوالان او مبصرین همدا زړې خبري کوي. دوی وایي چي دا ځل به ضرور اصلاحات راځي. حامد کرزي هوډ کړی دی چي په اداره کي به اصلاحات راولي. بهرنیان هم پدې باندي ټینګار کوي. نو بنا، خلک باید څه حوصله او صبر وکړي. زما په ګومان له تاریخي تجربو څخه څه نه زده کول، کم عقلي ده. د ځان اغفالول د ځان او راتلونکې نسل سره بې غوري او ظلم دی. په آب حیات پسي لټون پوره حماقت او ساده ګي ده. والسلام.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ